اخترمحمد یوسفی ۲۰۲۰/۰۸/۲۳

# د القاعدی او طالبانو اړیکو ته یوه لنډه کتنه



**(« یوه ورځ به موږ وکولای شو چې یو لوی او پرمختللی ملت شو، که چیری موږ بیا په بدبختی ډول باندی، بیله زیرمی پیسی په کار واچوؤ او یا موږ په بل ډول پلمه باندی وغولیږو، په هغه صورت کښی به زموږ خپل عزت او ملی اعتبار به د خپل ژوند د ماشومتوب په پړاؤ کښی د وژونکی ګذار سره مخامخ کړو.») ("جورج واشنګتن")**

« د امریکا د دفاع وزارت دا درې میاشتنی رپوټ، چې کانګرس ته وړاندې شوی، د ملګرو ملتونو او امریکايي چارواکو د څرګندونو پر بنسټ ويلي چې طالبانو د اپرېل میاشتي له پيله د جون میاشتې تر پای موده کې له ترهګرو ډلو سره اړیکې ساتلې دي او خپله هغه ژمنه يې نه ده پر ځای کړې چې د دوحې په تړون کې يې له امریکا سره کړې وه.»

ټول کورنی او بهرنی «اسلامی» افراطی ډلی که افغان «جهادی» تنظیمونه، طالبان، داعش، چیچنی، ازبک او تاجک اسلامستان، پاکستانی «اسلامی» افراطی ډلی، القاعده او نور ټول تندلاری ډلی دی، چی د شوروی برضد د جګړه لپاره دغربی هیوادونو وسایل ؤ کوم چی د پاکستان لخوا جوړشویدی. پاکستان د هغه جادوګر مارګیر په شان دی چی اوس هم غربی هیوادونه نه پریږدی چی خپل ماران بیرته و خپلوغار ور دننه کړی. پاکستان ته که دا د ماران («جهادی» تنظیمونه، طالبان، داعش، القاعده ...) شکرانی نه وی، نو مارګیر پاکستان ژوند نه پاتیږی. غربی هیوادونو د شوروی برضد دا «اسلامی» افراطی ډلی د خپلو اهدافو لپاره وکارول، او اوس ددی «اسلامی» افراطی ډلو دنده سرته رسیدلی دی، شوروی نظامی قواوی د افغانستان څخه وتلی دی، ددی مزدارنو وظیفه ختمه شویده، دا د جګړی په شنو ډالررو مست («جهادی» تنظیمونه، طالبان، داعش، القاعده مزدوران او نور یو لوی مشکل و ټول نړی پاته دی، غربی هیوادونه نشی کولای چی خپل مزدوران بیرته کرار کړی.

ډاکتر ایمان الظواهری د(۱۹۵۱) میلادی کال کښی د مصر د المعادی د ښار په یوه شتمنه کورنی کښی ږیدلی، او خپلی لوړی زده کړی یی د طبابت په برخه کښی د قاهری په پوهنتون سرته رسولی دی. الظواهری کله چی د اخوان المسلمین د ګوند رهبر سید قطب د مصر جمهور رئیس انورالسادت لخوا اعدام شو، ایمان الظواهری په (۱۴) ځورلس کلنی کښی د اخوان المسلمین د ګوند غړی شویدی. ایمان الظواهری د مصر جمهور رئیس انورالسادت د قتل په تور د اخوان المسلمین د ګوند د یوی څانګی اسلامی جهاد د ډلی سره د انورالسادت د وژلو په تور بندی شوی ؤ.



د۱۹۷۹ میلادی کال د شوروی د عسکرو د یرغل څخه وروسته یو تعداد مجرمین د عربی هیوادو له زندانو څخه د افغان جهاد لپاره خوشی شول او پاکستان ته راغلل. په لومړی سر کښی د سعودی عرب اسامه بن الادن چی د یوی شتمنی کورنی غړی ؤ او داکتر عبدالله عزام سره د افغان «جهادی» ډلو سره یوځای شوی او نور عربان یی و پاکستان ته وغوښتل. اسامه بن الادین د وهابی ډلی نظریات درلود مګر د سعودی عرب د شاهی کورنی سره په کلکه مخالفت کاوه. ایمان الظواهری هغه وخت د القاعدی د ډلی د رهبری دوهم سړی ؤ چی القاعده د امریکی پر سفارتونو دارالسلام، نایروبی او د نیویارک پر تجارتی بیلډینګو باند حملی کړیدی. ایمان الظواهری


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د القاعدی د مشر اسامه بن الادين د وژلو څخه وروسته د ۲۰۱۱ کال د می په میاشتی کی د القاعدی د مشر په توګه ټاکل شویدی. ایمان الظواهری د القاعدی اوسنی مشر د ملل متحد په تور لست کښی د خطرناک تروریست په توګه شامل دی. د امریکا متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، د عبدالله عزام ډله د هغو سني جهادي ډلو جنګي برخه ده، چې له القاعدې شبکې سره تړاو لري. عبدالله عزام د خپل عمر په پنځلس کلنۍ کې د ( اخوان المسلمين ) ليکو ته ورګډ شو او خپله ګوندي وړتيا يې همدلته وښودله . دحسن البناء د افکارو اغيز يې په شخصيت کې له ورايه ښکاريده ،عزام د اردن په پوهنتون کې د اخوان المسلمين لپاره فعاليت کاوه چی ليکو کښی کاوه. ډاکترعبدالله عزام په ۱۹۸۱ ميلادی کال کې د اخوان المسلمين په سپارښتنه د ملک عبدالعزيز په پوهنتون کې استاد شو. کمال السنانيري سره وکتل. نوموړی د اخوان المسلمين له لوري په افغانستان کې د جهاد د دوسيې مسوول و، سنانيري له عزام څخه وغوښتل ، چې د اخوان المسلمين په استازيتوب افغانستان ته سفر وکړي او هلته له فلسطين ، مصر ، سعودي عربستان ، اردن او نورو عربي او اسلامي هېوادو څخه ورتلونکي جنګيالي استقبال او سمبال کړي . عزام له تردد پرته ومنله او د ۱۹۸۱ ميلادی کال په پای کې يې د پوهنتون له رئيسه وغوښتل ، چې نوموړی په اسلام اباد کې نړيوال اسلامي پوهنتون ته د استاد په توګه وروپيژني. د اخوان المسلمين له خوا د ګومارل شوي عزام دنده دا وه ، چې له بهره د ورتلونکو مسلمانو ځوانانو څخه يو فعال او اغيزمن سازمان جوړ کړي او که اړتيا پېښه شي د نړۍ په هرګوټ کې ورسپارل شوې دنده تر سره کړي.




کله ، چې ډاکتر عزام په ۱۹۸٦ ميلادی کال کې خپل پلان عملي کاوه له ده سره د موجودو ځوانانو شمير ايله د ګوتو په شمار و . په افغانستان کې عرب جنګيالو د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۷ ميلادی کال کې په جګړه کې مخامخ ونډه واخيسته ، دغه مهال يې شمير په نابره بڼه ۱۲۰ ته ورسيده . ډاکتر عزام په خپله ټولې جګړې څارلې تر څو يې منفي اړخونه په ګوته کړي . عزام خپل پام نظامي روزنې ته واړوه او د همدغې چارې لپاره يې له نورې نړۍ څخه نظامي کارپوهان راوبل کارپوهان ( ۱۹۸٤- ۱۹۹۲ ) ميلادی د القاعدې د جوړښت لومړي کلونه شميري دغه مهال ډاکتر عزام او اسامه بن لادن د روسانو په ضد په عملي جهاد کې په خپله ګډون وکړ. اسامه بن الادين د بيت الانصار او ډاکتر عزام د مکتب الخدمات په نوم په پېښور کې دفترونه پرانيستل . ډاکتر عزام به د جهاد لپاره مطبوعاتي کمپاين کاوه او بسپنې راټولولې او د جهاد لپاره به يې عربان هڅول ، چې افغانستان ته سفر وکړي . بيت الانصار به دوی ته نظامي روزنه ورکوله او دجهاد جبهو ته به يې استول . اسامه د الجهاد مصري ګوند په مرسته په ځاځيو کې پوځي روزنتون پرانيست . له ۱۹۸٦ څخه تر ۱۹۹۲ ميلادی کال پورې افغانستان ته د ٤۰ زرو شاوخوا عرب جنګيالي راغلي و، له لندن څخه خپريدونکې القدس مجلې يې اټکلي شميرې داسې ښوولي :

سعودي عربستان ۲۰۰۰۰
يمن ۵۰۰۰
مصر ٤۰۰۰
الجزاير ۲۰۰۰

له المغرب ، ليبيا، فلسطين، عربي متحده امارات، تونس ، عراق، سوريه، لبنان، موريتانيا او سوماليا څخه د راغلو عربانو شمير د سلګونو په شاوخوا کې ؤ او پردې سربيره د زرګونو په شاوخوا کې پاکستانيانو هم د افغانستان په جګړو کې ونډه اخيستې وه. له ۱۹۸۸ ميلادی کال راوروسته د جهاد د پراختيا فکر رامنځ ته شو. د القاعدې نوم په دقيقه توګه په ۱۹۸۸ ميلادی کې د ډاکتر عزام له ترور وروسته راڅرګند شو . ډاکتر عزام له اسامه بن لادن څخه وغوښتل، چې د

هغه کسانو لپاره د ثبت یوکتاب جوړ کړي ، چې افغانستان ته تګ و راتګ لري. ځکه دا د مکتب الخدمات لپاره د شرم خبره ده، چې خپلو جنګیالو په اړه کره معلومات په لاس کې نه لري.



Sowjetischer Rückzug aus Afghanistan

**Afghanistan: „Sehnsucht nach Frieden"** S. 146, 148

Mit Blumen wurden die ersten Sowjet-Truppen aus Afghanistan verabschiedet. Zum Beginn des Abzugs erklärte Staatschef Nadschibullah in einem SPIEGEL-Interview, er hoffe auf Aussöhnung selbst mit den radikalen Moslems unter den Rebellen. In Glaubenssachen, so Nadschibullah, war Afghanistans KP „nie eine marxistisch-leninistische Partei".

("عودت قوای شوروی از افغانستان" « افغانستان: "دلگیر عقب صلح"،" با گل، با اولین قوای شوروی از افغانستان وداع گفته شد. در آغاز خروج، رئیس دولت نجیب الله در یک مصاحبه با "شپیگل" گفت، او آرزومند است، تا با بنیادگرایان افراطی مسلمان در بین شورشیان، به آشتی برسد. در رابطه با موضوع عقیده، طوری که نجیب الله می گوید، حزب کمونیست افغانستان هیچگاه یک حزب مارکسیستی – لنینستی نبوده است " »، "شپیگل"، شماره ۲۱، ۱۹۸۸م، ۲۳ می )

شورویانو عسکر په ۱۹۸۸- ۱۹۸۹ میلادی کلونو کښی له افغانستان ووتل، افغان «جهادی» تنظمیونو رهبرانو د ملل متحد د سولی پلان ونه مانه. افغان «جهادی» تنظمیونو رهبرانو د قدرت او چوکی د نیولو پر سر باندی یی په خپل منځو کښی په جګړو بوخت شول. په ۱۹۹۳-۱۹۹۲- ۱۹۹۴ کلونو ګلبدین حکمتیار، برهان الدین ربانی، احمدشاه مسعود، د رسول سیاف وهابیان ډله او د عبدالعلی مزاری ایران پلوه خمینی ډله «مذهبی» او قامی د کربلا په هغه جګړی پیل کړیوی چی د دوی د محشر د ورځو په جګړو کښی په زرهاؤ افغان بیګناه ولسی خلک و وژل شول، د خلکو ناموس، مال او سر جایداونه ټوله یی چور کړل.

بل دا چی د ۱۹۹۰ کال په پسرلی کښی کله شورویان د افغانستان څخه وتلی وه، د القاعدی عربان «جهادی» جنګالی د جګړی او «جهاد» په ډګر کښی پاته شول. په زرهاؤ د جګړی او «جهاد» ډګر کښی پاته شوی د القاعدی غړی «جهادی» جنګالی و خپلو هیوادو ته هم نشوای تلل، ځکه چی دوی په خپلو هیوادونو کښی مجرمین وه، جرمی دوسیی یی لرل، او د ځنیو عرب «جهادی» جنګالی د بند موده پاته وه. د القاعدې مشرتابه او اسامه بن الادن د خپل جنګیالیو یوه برخه یی چی په افغانستان کښی اوسیدل، و دوی ته د افغانستان تابعیت غوښتنه وکړل. برهان الدین ربانی او رسول سیاف اسامه بن الادن او هغه و ملګرو ته د افغانستان پاسپوړتونه ورکړل. د القاعدې مشرتابه او اسامه بن الادن کولای شول چی د هغو پاسپوړتونو پواسطه و نورو هیوادو ته هم سفرونه وکړی. د القاعدې مشرتابه او اسامه بن الادن د خپلو نور جنګیالیو ډلو، یوه برخه یی په پاکستان کښی پریښودل، او پاته نور برخی یی سودان او د افریقایی اسلامی په نورو هیوادو کښی ځای پر ځای کړل.

د القاعدی عربو «جهادی» هغه جنګالی چې په افغانستان کښی میشته شوی وی، په افغانستان کښی د کورو او جایدادو په رانیولو پیل وکړ. د القاعدی عربانو ددی کار لپاره و رسول سیاف او د هغه مرستیال د افغانستان د وخت کورنی چارو وزیر انجینر احمد شاه ته ډیری پیسی ورکړی وی، چې هغو پیسو و دوی ته په افغانستان کښی کورونه رانیسی. رسول سیاف او انجینراحمد شاه د القاعدی عربانو جنګالیو ته په پیسو په کابل کښی د کورونه رانیولی وی. د القاعدی عربان په ۲۰۰۱ میلادی کال کښی د امریکی او ناټو د حملی په درشل چې د طالبانو د حکومت را نسکور شو د افغانستان څخه پاکستان او یا نورو هیواد ته وتښتیدل، و وژل شول او یا بندیان شول. د القاعدی دعربانو هغه کورو او جایدادونه و رسول سیاف او انجینر احمد شاه ته د میراث په توګه پاته شول.



Hamid Karzai mit amerikanischen Soldaten der Special Forces, 2001

(« حامد کرزی با عساکر قوای خاص امریکا، ۲۰۰۱م»)

تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د طالبانو د نسکوریدو سره سم داسی ډیر کره شواهد په ډاګه شول، چې د القاعدی عربانو په هغو کورونو او جایدادو کښی چې رسول سیاف او انجینر احمد شاه پواسطه رانیول شوی وی، د القاعدې مشرتابه تروریستی ډلی یی روزلی وی. د هغو کورونو څخه په اردو، عربی، او انګریزی ژبو باندی د تروریستی تعلیماتو د زده کړی لپاره کتابونه پراته وه چې د القاعدې له هغو څخه د ترینګ کښی کار تری اخیستلی وی.

**اساسی پوښتنه خو دا ده چې د مصر د الظهر د پوهنتون څخه فارغ التصیل وهابی رسول سیاف او د هغه د ګوند مرستیال انجینر احمدشاه احمدزی رول او هلی ځلی د القاعدی او د نورو عرب تروریستانو راوستل و افغانستان ته، او یا د رسول سیاف په شپاړښتنه سره د اروپا څخه د القاعدی تروریست د ژورنالیست په جامه کښی د احمدشاه مسعود د وژلو لپاره د افغانستان تخار ولایت ته استول، تر طالبان او مسکین ملامحمدعمر ډیر زیات ؤ. افغانان او امریکائیان ولی تر اوسه هم د رسول سیاف ډبل رول پوښتنه ته درست ښکاره ځواب نلری. په دی وروستیو دری لسیزو کښی د افغانستان په هکله داسی پریکړه نشته چې امریکائیانو د وهابی رسول سیاف په مشوره نه وی تر سره کړی. په افغانستان کښی د امریکی او ناټو د نظامی جنرالان کښی، افغانستان دواړه جمهور رئیسان حامد کرزی، اشرف غنی او حتی د افغانستان د جمهوری ریاست د چوکی مجنون عبدالله عبدالله ټول د وهابی رسول سیاف تر نظر لاندی کار کوی ولی؟**






د القاعدې مشران او اسامه بن الادن د طالبانو په مرسته د سعودی عرب، امریکا او د هغوی نورو غربی انډیوالانو پرضد یی د تروریستی جګړو لپاره په پټو پلانو او فعالیتونو باندی پیل کړی وی. د پاکستان استخباراتو اداری أی. اس. آی. د طالبان د واکمنی په وخت کښی په یو درواغ خبر کښی ویلی وه چې د القاعدې مشر اسامه بن الادن و ملامحمد عمر ته بعیت کړیدی، بلکه دا خبره بر عکس ؤ، د القاعدې مشر اسامه بن الادن عملاً د افغانستان واک پلاس کښی

درلود،  چی تر اوسه پوری د القاعدې مشران د طالبانو سره خپل پټ اړیکی لری. د طالبان د واکمنی په وخت کښی پاکستان د هند او افغانستان پر ضد هرډول ورانی کولای شول. تاسی د طالبانو د حکومت په وخت کښی د هندوستان د ملکی آلوتکه ګوری د کندهار په هوایی ډګر کښی د پاکستان د جهش محمد أفراطی ډلی د مسعود اظهر پلویانو تشتولی ؤ.

پای.



مطالب بیشتر از این نویسنده، لطفاً اینجا کلیک کنید!